مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۱/۱۰/۱۸

مابنامی مجلس

(۴۲)



میلمه عجیبه حالت درلود؛ کله به موسک شو او کله به یې اوښکې وڅڅیدې. هیڅ نپوهیدم، رښتیا خبره وې حتی د پوښتنې چل هم را ځنې هېر شو.

اخر مې پیاله ور وړاندې کړه او زړه مې غټ کړ:

و انډیواله! ګنګس دې کړم. اخر دا کوم کیفیت تجربه کوې؟

په ډنډ سترګو یې راوکتل او یو دم موسکی شو:

ته خو دې تصویر ته وګوره! یو پخوانی نکل یې را یاد کړ: د یو چا ماشوم تازه په خبرو راغلی و. پلار یې د حکومت لخوا ونیول شو او بندي شو. کلونه واوښتل، ورځ داسې راغله چې د ده بې ګناهي ثابته شوه او د خلاصون زیری یې ورکړ.

قیدي، په ډنډ سترګو د جیلخانې مسوول ته وویل: نه ځم، اوس څه وکړم؟ هغه وخت چې مې تازه زوی په خبرو راغلی و او له هرې وړې، وړې خبرې مې ورته خوندونه اخیستل؛ هغه دور را باندې بند کې تېر شو!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کټ مټ هماغه کیسه ده. له هغې هم ځورونکې. د خدای لپاره په خوله یادیږي، ۱۴ کاله یې په ګوانتانامو غوندې زندان کې تېر کړل او اخره کې یې ورته وویل چې ته بې ګناه او رخصت یې!

پوهیږې؟ د اسد الله هارون لور مریم چې د ده له نیول کیدو وروسته دنیا ته راغلې او اوس ۱۴ کلنه ده، د تېرکال په غبرګولي کې یې یوې رسنۍ ته ویلي و: «پلار جانه، تاته ډیرې خبرې لرم؛ خو الفاظ نشته چې بیان یې کړم...»

ښه، دا یوه نیمه لسیزه به اوس څوک او څنګه جبران کړي؟ دې موده کې چې په ده او په کورنۍ یې کوم غم تېر شوی او د هجران هرې شیبې یې کړولې هغه به څنګه جبران شي؟ د مریم جانې د ماشومتوب خواږه چې لوټ شول، هغه به څوک جبران کړي؟ د سپین سرې مور او پلار پریشانۍ به یې څوک جبران کړي او...؟؟؟

میلمه ورو، ورو جذباتي کیده. ژر مې خبره ور پرې کړه:

شکر دې وکاږي! په دې ۱۴ کلنه موده کې څومره بې ګناه کسان ووژل شول؟ د هغوی ژوند به څوک جبران کړي؟ د هغوی د یتیمانو، کونډو، سپین سرو میندو او پلرونو او... خپګانونه به څوک جبران کړي؟ او... دا خو بیا هم بختور و، پاتې عمر خو به له خپلې کورنۍ سره تېر کړي.

میلمه ته لکه چې د خپلې کورنۍ د کوم مقتول څېره ترسترګو شوه، اول یې ورو ـ ورو ژړل یو ناڅاپه له کنټروله ووت، داسې چیغې یې ووهلې ما ویل که اوس به ټول ګاونډیان راټول شي.

زه هم له ورته حالت سره مخ شوم، ماته هم د خپل... بس ښه مو زړونه تش کړل.

میلمه پورته شو:

خیر یوسې چې ډاډه دې کړم. کنه نن شپې راځنې د دې ازاد شوې قیدي خیالونو خوب تښتولی و.

ما ویل: دې کیسو پسې مه ګرځه، کمزوري ملتونه تل پایمال وي. هغه ملتونه خو لا پسې پایمال وي چې خپلو کې یو بل پسې ډک ټوپک ګرځوي.

میلمه، د راخوشي شوې هارون عکس ته کتلې او بیا یې ویل:

بختور یې. تا او کورنۍ ته دې ډیر ـ ډیر مبارک وي!

او بیا په ژړغونې غږ د دې لنډۍ په ویلو له حجرې ووت:

چې مساپر شي بیا به راشي
د تورو خاورو بندیوان کله راځینه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ